السنّة النبوية وعلومها
www.sunnah.global

# چا چې :( لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ) وويل: او په هر هغه څه يې کفر وکړ چې له الله جل جلاله پرته يې عبادت کيږي، نو د هغه مال او وينه حرام دي، او حساب يې د الله جل جلاله سره دی

له طارق بن أشيم الأشجعي رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې ما له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه اورېدلي چې وييل يې: «چا چې :( لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ) وويل: او په هر هغه څه يې کفر وکړ چې له الله جل جلاله پرته يې عبادت کيږي، نو د هغه مال او وينه حرام دي، او حساب يې د الله جل جلاله سره دی».

[صحيح دی] [مسلم روايت کړی دی]

رسول الله صلی الله عليه وسلم خبر ورکوي چې چا «لا إلهَ إلَّا اللهُ» وويل: يعني په ژبه يې ګواهي ورکړه، چې له الله جل جلاله پرته پر حقه بل معبود نشته، او په هر هغه څه يې کفر وکړ چې له الله جل جلاله پرته يې عبادت کيږي او له اسلام پرته له نورو ټولو اديانو څخه يې بيزاري اعلان کړه، نو د هغه وينه (تويول) پر مسلمانانو حرام دي، زمونږ لپاره يوازې د هغه څرګند حالت بسنه کوي، نو نه يې مال اخيستل کيږي، او نه يې وينه توييږي، مګر دا چې جرم او يا جنايت وکړي چې پدې سره يې د اسلام د احکامو له مخې وينه توييږي. او د قيامت په ورځ به ترې الله جل جلاله حساب اخلي، نو که چېرته رښتينی و اجر به ورکړي او که منافق و، نو سزا به ورکړي.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/6765

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee